مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال
۲۰۲۲/۰۴/۱۴

# د تکفير او ويبنتيا تر منځ شعوري واټن

* سل کاله پخوا انګريزي څارګره (اکتشافي) الوتکه، چې ډېره لوړه نه الوتله، د افغانستان پر جنوب تېره شوه، ځوانکي شپون په غره کې وليدله، سيلولى کلي ته راغى او خلکو ته يې کيسه تېره کړه...

سپين ږيرو توبې ايستلې او چې د کلي اخوند خبر شو، پر هلک يې د سنګسار حکم وکړ، ويل: کفر غږوي. مُشرک دى .بنده به څه وي، چې وسپنه په هوا کړي؟

په سبا يې بوره مور قبر ته ناسته وه، ژړل يې، چې زما زوى خو ليونى و، ليونى خو له شرعي ماپ (معاف) وي. ولې مو وواژه؟...

* د انګرېز په اکسفورډ ښار کې هغه کوڅه اوس هم د ګرځندويو کتنې ته هرکلى وايي، چې د نړۍ لومړنى فوټو شاپ يې بريالى ترسره کړى و. د شاه مېرمنې ثريا سر يې د يوې بربنډې انګريزې په بدن سريښ او بيا چاپ کړى و. د سقاوي اردور په درشل کې دغه عکس په زرګونو پاڼې خپور شو او امان الله خان پرې تکفير شو. پاچا اخوندانو او پيرانو ته جرګه ولېږله، چې څه غواړئ؟ هغوى د مکتبونو د تړلو او نورو شرطونو په لړ کې يو شرط دا کېښود چې پاچا به شاه مېرمن ثريا طلاقوي.

* د ګوډ ملا په اړه اوازه ګډه شوه، چې ستانه او رسنده دى، چې هرځاى کيني، د ناستې پرځاى يې شين چمن رازرغون شي... خلکو يې په چيغه پسې سپلاوې او سوتي راواخيستل، چې هلئ سرکار کافر دى ...
اوس
هو، اوس

يعنې شاو خوا سل کاله روسته، خامخا د هغو کليوالو لمسي په الوتکو کې سفرونه کوي، چې زلمى شپون يې سنګسار کړى و.

نن د هغو خلکو په جيبونو کې تر ټولو پرمختللي کامرې او د فوټو شاپ وسايل پراته دي، چې نيکونو يې د شاه مېرمن طلاق غوښت.

او خامخا ګڼو هغو لمسيو هم ګوډ ملا شاتګپال وګانه چې نيکونو يې د خداى ولي ګڼلى و.

بغدادي پير اوس لولو او پرې پوهيږو، هغه وخت چې بغدادى پير ماموريت ترسره کاوه، زموږ خلک يې د تکفير د کرغېړني دسيسې ښکار ول.

کيسه چېرته ده؟

سل کاله مخکې موږ د تکفير قربانيان وو، ايله نن پرې پوهيږو، چې کيسه څه وه؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

سل کاله پخوانی تکفیر (الف) وګڼئ او اوسنی هوښیاري او ویښتیا مو (ب) وګڼئ.

زموږ ملي ربړه، مصیبت او غمیزه دا ده، چې د (الف) او (ب) ترمنځ واټن سل کاله دی.

هغه څه چې نن د دین په نامه کیږي او هغسې چې نن وطن د تکفیر په وسله تباه کیږي، همدا زموږ لمسیان به سل کاله روسته پر موږ ټولو غوسه وي او خاندي به...

غوښتنه دا ده، چې ایا دا سل کلنه فاصله رالنډولای نه شو؟

همدا نن د تکفیر او له دین څخه د سیاسي ابزاري ګټنې په راز پوهېدلای نه شو؟

ټولنه دغه سل کلن واټن یوې ورځې ته رالنډولای نه شي؟

همدا نن ویښېدلای نه شو؟ چې پوه شو، د انګریز میراث خور استخبارات راباندې څه څه کوي؟

یوه بل واټن هم شته، چې منفي واټن یې بولي. یعني تر دې وړاندې چې (الف) پېښ شي، موږ وخته په (ب) سنبال یو. یعني دومره ویښ شوي یو، چې که سبا مو هم څوک د دین په نامه تفسیر و تعبیر تباه کول غواړي یا مو سبا د اولادونو مرۍ د تکفیر په پڅه چاړه پرې کوي، نو موږ یې باید نن مخه ونیسو.

پېغلو او زلمیو!

ولیکئ، هر یو مو یو یو مخ په دې باندې لیکنه وکړئ، مشاجره وکړئ، بحث و استدلال وکړئ، شور جوړ کړئ، چې سل کلن واټن څنګه یوې ورځې او بیا منفي واټن ته راکوشنی کړو؟

شور جوړ کړئ، چې څنګه د تکفیر تر کړکیچ مخکې موږ شعوري ویښتیا ته ځان ورسوو او د ګاونډ د استخباراتي مدرسو خونړی چړې، ناولې توري او زهرجنې نیزې څنګه د تاریخ په ډېران کې خښولای شو؟

یادښت: له لنډو کومېنټونو غوره دا ده، چې یو یو مخ استدلالي لیکنې ولیکئ، استدلال تمرین کړئ!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ